۳۶مه ګڼه - اپریل ۲۰۲۶

# افغان ژورنال

THE AFGHAN JOURNAL

## د ټولنو تړل ۰ د میراثونو لمانځنه

د ۲۰۲۶ کال لپاره، یوولس مرستې (Grants) ورکول کېږي. ګوښتونکي باید د ۲۰۲۱ کال د اګست وروسته متحده ایالاتو ته راغلي وي. افغان ګوښتونکي له ټول هېواد څخه وړ دي، خو باید سنت لوئیس، میسوري ته...

د نجونو د والیبال لوبډلې رسمي پرانیستنه د ۲۰۲۶ کال د مارچ په ۶مه ترسره شوه. په دې مراسمو کې ملاتړي او شریکان راټول شوي وو تر څو د دې نوې نوښت او په افغان ټولنه کې د لوبډلې مثبت اغېز ولمانځي.

هغه فارغان وهڅول چې له یو بل سره کار وکړي او له سیمه‌ایزو سوداګریو، ملګرو او ګاونډیانو سره ګډې سوداګرۍ جوړ کړي. دا ډول همکارۍ کولای شي کوچني سوداګرۍ پیاوړي کړي...


زه پوهېږم چې کله نورې اندېښنې او مسؤلیتونه ډېر وي، نو زده‌کړو ته لومړیتوب ورکول څومره ستونزمن وي. خو زه غواړم ټولو افغان نجونو او هلکانو ته مستقیمه خبره وکړم: ستاسو زده‌کړه باید تل ...





























هر عکس له یوې کیسې خبرې کوي
موږ یې زر په یوه کی رانغاړو

THE AFGHAN JOURNAL

# لیکلړ

۳. هر هغه څه چې ته یې باید د افغان وړو سوداګریو د مرستو په اړه زده کړې

۴. والیبال، په سنت لوئیس کې د سپورټ په وسیله د ټولنې جوړول

۵. د ګنډلو ټولګي، د مهارتونو او فرصتونو جوړول

۶. میرمفتون، د نړۍ بام د خلکو غږ

۷. د سولارډ بزګرو په بازار کې د ټولنې یو خوند

۸. د ژبې زده‌کړه او فرصتونه

۹.د پنجشیر ښکلا او ارزښت

۱۰. په سنت لوئیس پوهنتون کې زما سفر

۱۱. په سنت لوئیس کې د نوښت او نوی پرمختګ لمانځنه

۱۲. د اعلانونو پاڼه

# د افغان ملاتړ پروګرام

په انټرنشنل انسټیټیوټ کې د افغان ملاتړ پروګرام، خپرندویه ټولګې افغان ژورنال ته ستاسو هرکلې کوو. د افغان ژورنال میاشتنۍ خپرندویه ټولګه ده چې د سنت لوئیس زړه ته یې لار جوړه کړې ده چې په انټرنشنل انسټیټیوټ کې د افغان ملاتړ له پروګرامونه ده.

دا ژورنال د جوړ شوی وو ترڅو د افغان کډوالو کیسې، غږونه، او تیرو تجروبو ته انعکاس وکړي. دا چې په هره برخه کې د افغانانو د یوالي ساتلو لپاره کوښښ کوو، موږ هڅه کوو چې تولنیز نرمښتونه، کلتور او د افغانانو سره د ښه ژوند جوړولو د هیلو په پوره کولو کې ورسره مرسته وکړو.

د افغان ملاتړ پروګرام له افغانانو سره مرستو ته چمتو دي، ترڅو په خپل نوي ژوند کې بريالي ووسي. دا پروګرام د افغان کورنيو د بيا ميشته کيدو مرستو برسيره، نوره مرستې هم وړاندې کوي. د بيلګې په توګه: د کور مرسته، د کارموندنې خدمتونه، د سوداګريو د موندنو لپاره مالي مرستې، حقوقي مشوری او په صحي خدمتونو کې د نوم ليکنې په شان نور موارد هم شامل دي.

دا پروګرام د کلتور د ساتلو او د افغان تولني ته ځانګړې توجه لری، لکه د پښتو زده‌کړی تولګي، فارسي (دری) او د ماشومانو لپاره د قرآن زده‌کړه، او برسيره پر دی، د افغان ميرمنو لپاره يي د ګنډلو زده‌کړې فرصتونه هم چمتو کړي دي. د فوټبال ټيمونه، د موټر چلولو ټولګي، او په ښونځيو کې د نوم ليکنې همکاری د هغې ډلي له کارونو د چی دا پروګرام يی د افغانانو د ژوند د پياوړتيا په موخه ترسره کوي.

تر ټولو مهم، د انسټيټيو د دغو هڅانده پروګرامونو په بنسټ، له افغان ټولنيز مرکز او د سوداګرۍ خونې هم ملاتړ کوی، چې د هويت پياوړتيا، سوداګرۍ او د افغانانو د يوالي لپاره ځای دی. د افغان ټولنيز مرکز د نه سترې کيدونکو هلوځلو نه خورا مننډوي يو، چي په سنت لوئيس کې د ابوبکر صديق جومات دغه وياړ او په ځان باور ښکاره نښه ده.

د افغان ژورنال چاپ او انلاين بڼه په انګليسي، پښتو او دری ژبو خپريږی. دا خپرندويه ټولګه د پياوړتيا، عامه پوهاوي، او هيلو ورکولو لپاره کار کوي. دا په حقيقت کې ستاسو غږ، تاسو او ستاسو ټولنه ده. د نورو موضوعاتو لاسته راوړلو لپاره QR کوډ نه په استفادې، زموږ ويب له پاڼې www.afghancenter.org ليدنه وکړی.

"ټول په ګډه، موږ يوازی خپل ژوند نه جوړو، بلکې يوه بريالۍ ټولنه جوړوو چې د درناوي، کلتور، او د يوالي په څواک سمبال وي."
حمدالله همدرد، د افغان ملاتړ پروګرام مشر.

# هر هغه څه چې ته يې باید د افغان وړو سوداګریو د مرستو په اړه زده کړې




هغو کسانو ته چې غواړي خپله سودا کړي پیل کړی او یا وده ورکړی، د افغان وړو سوداګریو مرسته د ۲۰،۰۰۰ امریکایې ډالرو وړاندیز کوي. دا پروګرام د وړو سوداګریو خاوندان هڅوی ترڅو خپل نظرونه په حقیقي سوداګریو بدل او په ټولنه کې د ځان او نورو لپاره فرصتونه جوړ کړي. دا فرصت د یوه ځل لپاره ده، او پراختیا یی دا مانا لري چې سوداګری له وړاندې جوړه شوی دی او اوس د لومړي ځل لپاره د مرستې (Grant) غوښتنه کوي. د غوښتنلیک څو پړاوونه به اعلان شي، او موږ تمه لرو چې د دې ارزښتناکه پروګرام لپاره به ډېر غوښتنلیکونه ترلاسه کړو.

له غوښتنلیکونو استولو وړاندې، دا خورا اړینه ده چې تاسو د ټاکلو شرایط په پوره کولو ډاډه کړئ. د غوښتنلیک ورکوونکي باید د سوداګرۍ رسمي جواز (Business License) ولري، او که له بل ایالت څخه غوښتنلیک استوي، نو باید د هماغه ایالت معتبر جواز ولري. همدارنګه، د EIN (Employer Identification Number) ترلاسه کول هم ضروري دي. دا اسناد عموماً په اسانه ترلاسه کېدای شي او ډېری وخت د کمپیوټر له لارې په شاوخوا یو ساعت کې بشپړېدای شي. د غوښتنلیک له سپارلو وروسته، غوښتونکي باید اړین متمم اسناد هم وړاندې کړي. دا هم مهمه ده چې په روښانه ډول څرګنده کړئ چې تاسو د سوداګرۍ خاوند یا شریک یاست. د امتیاز سوداګری (Franchise) ډول، یا د امازون په څېر ماډلونه چې فیس ته اړتیا لري، وړ نه دي؛ سوداګری باید سیمه‌ایزه وي.

ځینې سوداګرۍ د کار د نوعیت له مخې ځانګړو تصدیقونو ته اړتیا لري.

د بېلګې په توګه، تخنیکي برخې لکه نلدواني (Plumbing) رسمي جواز ته اړتیا لري. سپارښتنه کېږي چې دا تصدیقونه د غوښتنې له استولو وړاندې ترلاسه کړئ تر څو ستاسو غوښتنلیک لا پیاوړې شي. د سوداګرۍ یو غښتلې پلان د غوښتنلیک له تر ټولو مهمو برخو څخه دی. غوښتونکي باید په واضح ډول تشریح کړي چې مرستې (Grant) به څنګه کاروي او کاروبار به یې څنګه پرمخ ځي. پدې کې ورځني فعالیتونه، محصولات یا خدمتونه، او راتلونکي موخې شاملې دي. یو تفصیلي پلان د ارزونکو سره مرسته کوي چې ستاسو مفکوره او د هغې د بریالیتوب امکان ښه درک کړي.

د غوښتنلیک له سپارلو وروسته، د Pitch Day لپاره چمتووالی مهم دی. غوښتونکي باید تمرین وکړي چې خپل نظرونه په واضح او باوري ډول وړاندې کړي. ځکه چې د پریزنټېشن وخت محدود وي، نو د وخت ښه مدیریت ډېر مهم دی. ځوابونه باید روښانه، لنډ او متمرکز وي.

د ۲۰۲۶ کال لپاره، یوولس مرستې (Grants) ورکول کېږي. غوښتونکي باید د ۲۰۲۱ کال د اګست وروسته متحده ایالاتو ته راغلي وي. افغان غوښتونکي له ټول هېواد څخه وړ دي، خو باید سنت لوئیس، میسوري ته د کډه کېدو لپاره چمتو وي. دغه پروګرام د کډه کېدو قوي ملاتړ هم برابروي، چې پکې د استوګنې موندلو مرسته، د درې میاشتو کرایه او د یوې میاشتې د هوساسنې ضمانت (security deposit) ورکول، او د درې میاشتو لپاره د برېښنا، ګاز، اوبو، مردارو اوبو او خځلو لګښتونه شامل دي.



# واليبال، په سنت لوئيس کې د سپورټ په وسيله د ټولنې جوړول

د لومړي ځل لپاره، د سنت لوئيس سيمه کې له افغان انجونو جوړه شوی د واليبال يوه لوبډله رامنځته شوه. دغه لوبډله د افغان ټولنې لپاره يو مهم پړاو بلل کېږي، په ځانګړي ډول د هغو ځوانو انجونو لپاره چې له سپورټ او ټولنيز فعاليت سره لېوالتيا لري. دا ټيم له بېلابېلو شاليد لرونکو ګډونوالو څخه جوړ شوی، چې د مختلفو تجربو او نظرونو لرونکې نجونې سره يو ځای کوي. دوی به د دې لوبډله له لارې دا فرصت ولري چې خپلې ټولنيزې اړيکې پراخې کړي، ملګرتياوې جوړې کړي، او د يو بل په اړه خپله پوهه زياته کړي.

د نجونو د واليبال لوبډلې رسمي پرانيستنه د ۲۰۲۶ کال د مارچ په ۶مه ترسره شوه. په دې مراسمو کې ملاتړي او شريکان راټول شوي وو تر څو د دې نوې نوښت او په افغان ټولنه کې د لوبډلې مثبت اغېز ولمانځي. د افغان ملاتړ پروګرام تمويل کوونکي، جېري شليختر، د دې نوښت ستاينه وکړه او د افغان نجونو او ميرمنو لپاره يې د سپورتي فعاليتونو پر اهميت ټينګار وکړ. هغه وويل چې دا ډول پروګرامونه ګډون، ځان باور، او د ټولنې سره ښکېلتيا پياوړې کوي.
د هغه په وينا، کله چې ځوانان په سپورتي او ټولنيزو فعاليتونو کې برخه اخلي، نه يوازې خپل مهارتونه ښه کوي، بلکې د مشرۍ، ډله‌ايز کار او اړيکو ورتياوې هم زده کوي. دا تجربې د پياوړو ټولنو په جوړولو کې مرسته کوي او يوه له ټيکاوه ډک او ملاتړی ټولنيز چاپېريال رامنځته کوي. هغه زياته کړه چې دا ډول نوښتونه سنت لوئيس ښار د ټولو لپاره لا ژوندی او پرمختللی کوي.
دا د واليبال نوښت د ځو مهمو شريکانو د همکارۍ پايله ده، لکه تمويل کوونکی جېري شليختر، د سنت لوئيس انټرنشنل انسټيټيوټ، د امريکا–افغان سوداګرۍ خونه، خپله لوبغاړې، او Welcome Neighbor STL.

د سنت لوئيس انټرنشنل انسټيټيوټ مشرتابه ټينګار وکړ چې په دې ډول ګډون دا شونې کوي ترڅو داسې پروګرامونه رامنځته شي چې د افغان ټولنې لپاره ګټور وي او له نوو راغلو کسانو سره مرسته وکړي تر څو په متحده ايالاتو کې خپل ژوند جوړ کړي.
د نجونو د واليبال لوبډلې تر څنګ، د هلکانو لپاره هم د واليبال يوه لوبډله شته. د افغان ملاتړ پروګرام دواړه لوبډلې د ګډون په موخه هڅوي او هغوی ته دا فرصت برابروي چې د کال په اوږدو کې به هرې شنبې په ورځ څلور ساعته تمرين او لوبې ترسره کوي. دا منظم فعاليتونه ګډونوالو ته اجازه ورکوي چې فعال پاتې شي، خپل ورزشي مهارتونه لوړ کړي، او په يوه مثبت او ملاتړي چاپېريال کې وخت تېر کړي.
د افغان ملاتړ پروګرام اصلي هدف دا دی چې د داسې نوښتونو له لارې ټولنه پياوړې کړي. په تېرو کې، دې پروګرام د فوټبال يو بريالی نوښت هم تنظيم کړی وو، چې پکې تنکيو او ځوانانو له ۲۰ ساعتونو څخه زيات د سنت لوئيس په TOCA Soccer Center کې فوټبال وکړ. دا نه يوازې د لوبغاړو لپاره له سپورټ د خوند اخيستلو يو ښه فرصت وو، بلکې د کورنيو لپاره هم دا زمينه برابره وه چې يو بل سره ووينې، ملګرتياوې جوړې کړي، او خپلې اړيکې پراخې کړي.
د واليبال دا پروګرام د امريکا–افغان سوداګرۍ خونې له خوا پرمخ وړل کېږي، چې د سنت لوئيس انټرنشنل انسټيټيوټ، او د Welcome Neighbor STL له خوا يې ملاتړ کېږي. که تاسو د ګډون لېوالتيا لرئ، مهرباني وکړئ د لا زياتو مالوماتو لپاره په دې برېښناليک اړيکه ونيسئ:

sayedis@iistl.org

# د ګنډلو ټولګي، د مهارتونو او فرصتونو جوړول



سنت لوئیس د ډېرو ټولنو لپاره د فرصتونو ښار دی، په ځانګړې توګه د هغو لپاره چې تنوع لري او نوی ډلې یې جوړې کړې دی. یو له دغو فرصتونو څخه د ګنډلو ټولګي دي چې د انټرنشنل انسټیټیوټ لخوا یې په افغان ټولنیز مرکز کې ملاتړ کیږي. دغو ټولګیو د هغو میرمنو لپاره چې غواړې ځانګړی مهارتونه زده کړي او د ګټې وټې لاربچارې وسپړی، یو ملاتړ کونکې چاپیریال رامنځته کړی دی.

د ګنډلو ټولګي د څلور ساعتونو لپاره په اونۍ کې دوه ځلې، په لاره اچول کیږی، او د یوه ژمن ټیم د کارکونکو له خوا ملاتړ کېږي. دا چاره پروګرام په ځانګړي ډول د هغو میرمنو لپاره ډېر د لاسرسي وړ ګرځوي چې کېدای شي د کورنیو مسؤلیتونو له کبله په عادي ډول په ټولګیو کې ګډون ورته ستونزمن وي.

د ۲۰۲۶ کال د مارچ په ۶مه، د سنت لوئیس انټرنشنل انسټیټیوټ د ۱۲ ګډونوالو د فراغت مراسم ولمانځل، چې دا لړۍ یې په بریالیتوب سره پای ته ورسوله. د پروګرام په اوږدو کې، ګډونوالو هم نظري پوهه او هم عملي د ګنډنې مهارتونه زده‌کړل، او د جامو او نورو توکو د جوړولو وړتیا او باور یې ترلاسه کړ. د دې لړۍ تر پای پورې، دغو میرمنو ارزښتناک مهارتونه ترلاسه کړل چې کولای شي هغوی ته اقتصادي خپلواکي ور په برخه کړي.

فارغانې اوس ښې چمتو دي چې د خپلو د ګنډلو مهارتونو له لارې عاید ترلاسه کړي او خپله ځان بسیا کړي. د ډېرو ګډونوالو لپاره، ګنډنه یوه عملي او د لاسرسي وړ لاره ده چې په نسبتاً لنډ وخت کې یې د عاید سرچینه رامنځته کړي. دا پروګرام هغو میرمنو ته هیله او فرصت وربخښي چې د مانا لرونکي دندې په لټه کې دي او غواړي له خپلو کورنیو سره په مالي ملاتړ کې ونډه واخلي.

بلیک هېملټن، د سنت لوئیس انټرنشنل انسټیټیوټ رئیس، په دې مراسمو کې وینا وکړه او د ګډون او همکارۍ پر اهمیت یې ټینګار وکړ.

هغه فارغان وهڅول چې له یو بل سره کار وکړي او له سیمه‌ایزو سوداګریو، ملګرو او ګاونډیانو سره ګډې سوداګرۍ جوړ کړي. دا ډول همکارۍ کولای شي کوچني سوداګرۍ پیاوړي کړي او د سیمه‌ایز اقتصاد د ودې لامل شي.

د فراغت په مراسمو کې، د پروګرام مشر حمدالله همدرد هم ټینګار وکړ چې د کورس بشپړول یوازې د سفر پیل دی. هغه فارغانې وهڅولې چې خپل مهارتونه تمرین کړي او حتی له خپلو کورونو څخه د کوچنیو سوداګریو د پیل په اړه فکر وکړي. د هغه په وینا، د ژمنتیا او خلاقیت له لارې دا مهارتونه کولای شي په دوامداره عایداتي سرچینو بدل شي.

د پروګرام بله مهمه برخه د ماشومانو د ساتنې ځانګړې فضا ده چې د ګډونوالو د ماشومانو لپاره برابره شوې ده. دا ځای د کتابونو او د لوبو په نورو وسایلو سمبال دی تر څو ماشومان په داسې حال کې بوخت وساتي، چې میندې یې په ټولګیو کې ګډون کوي. یوه روزل شوی پالونکې د ماشومانو څارنه کوي او د کیسو ویلو او لوستلو په څېر فعالیتونه تنظیموي، تر څو ماشومان خوندي او خوشاله پاتې شي.

د ګنډلو پروګرام د ۱۲ اونیو لپاره په افغان ټولنیز مرکز کې ترسره کېږي، چې پته یې دا ده:

S Grand Blvd Suite 105, St. Louis, MO 63118 3611

هغه میرمنې چې غواړي د ګنډلو مهارتونه زده کړي او د دې ملاتړې ټولنې برخه شي، هڅول کېږي چې غوښتنلیکونه وړاندې کړي.

د لا ډېرو مالوماتو یا د ګډون په موخه، مهرباني وکړئ په دې برېښنالیک اړیکه ونیسئ: sayedis@iistl.org
یا له مرکز لیدنه وکړئ. نور مالومات په دې وېب‌پاڼه کې هم موندلای شي: afghancenter.org



# میر مفتون، د نړۍ بام د خلکو غږ

د عکس امتیاز: طلوع تلویزیون

میر مفتون د درناوي وړ ولسی سندرغاړې او مسیقي کار دی چې په ۱۹۶۴ کې د بدخشان د اشکاشم ولسوالی په بازګیر کلي کې زیږدلې دی، چرته چې هغه ژوند کولو ته دوام ورکړ. هغه له کلتورې موسیقۍ سره په ژورو اړیکو او د دمبورې په غږولو پیژندل کیږی. له ډیر تنکي عمره د هغه غږ او د موسیقۍ نوښت خلک ځان ته بلل. حتی پرته د موسیقۍ له کوم رسمي زدکړې، د هغه پیاوړې مینې او طبیعي وړتیا هغه ته دا زمینه برابره کړه چې د سیمه‌ایزو ټولنو ترمنځ یو پېژندل شوی او محبوب هنرمند شي.

مفتون باوری دې چې مانادارې سندرې، له احساسه ډک غږ، او له اوریدونکو سره د زړه له تله د اړیکې جوړولو وړتیا د یوه ریښتیني سندرغاړی تر ټولو مهمې ځانګړتیاوې دي. د خپلې اوږدې هنري لارې په درشل کې، د هغه نږدې ملګري او همکار هنرمند، حاجی ملک پروانی، له دېرشو کلونو څخه زیات د هغه ملاتړ کړی دی. د دوی ملګرتیا او ګډ کار د مفتون د هنري لارې او اجراوو په دوام کې مهم رول لوبولی دی.

موسیقي د مفتون په کورنۍ کې ژورې ریښې لري. د هغه نیکه سندرغاړئ وو چې له دف (دایره) سره یې سندرې کولې، او پلار یې هم سندرغاړی وو. د کورنۍ د یوازیني زوی په توګه، مفتون په طبیعي ډول د خپلو نیکونو هنري دود شا ونیوله. نن ورځ، هغه دا میراث خپل زوی ته هم لېږدوي، چې هغه هم له موسیقۍ سره لېوالتیا ښودلې ده. هغه په ویاړ سره وایي چې د خلکو مینه او ملاتړ له ده هغه هنرمند جوړ کړی چې نن دی.

مفتون په خپل کلي کې لیسه پای ته ورسوله او وروسته یې نږدې یوه لسیزه په دولتي دنده کې کار وکړ. سره له دې چې مسلکي مسؤلیتونه یې درلودل، هغه له موسیقۍ سره خپله ژمنتیا وساتله او په ودونو، محلي غونډو او کلتوري مراسمو کې یې سندرې ویلې.

د هغه ډېرۍ لومړني ثبتونه په کیسټونو کې ثبت شوي وو او د افغانستان د شمال په بېلابېلو سیمو کې خپاره شول، ان تر دې چې د هېواد نورو برخو ته هم ورسېدل. هغه په څو دودیزو آلاتو کې مهارت لري، لکه دمبوره، هارمونیم، او غیچک. د هغه موسیقي د بدخشان ځانګړي اوازونه د مرکزي اسیا له اغېز سره یوځای کوي، چې پایله یې یو بډایه او متنوع موسیقي ډول جوړوی.

مفتون وروسته له هغه په ملي کچه ډېر مشهور شو چې د افغان ستوری (Afghan Star) د موسیقۍ سیالۍ په څوارلسم پړاو کې ګډون وکړ، چې د هېواد په کچه یې د هغه هنر پراخو اورېدونکو ته ورساوه. هغه نړیوالې اجراوې هم کړې دي، چې پکې په اروپا کې کنسرتونه، د هالنډ په ارنهم ښار کې اجرا، او د تاجکستان او ازبکستان په سیمه‌ایزو موسیقیو پروګرامونو کې ګډون شامل دی. په ۲۰۰۱ کال کې، هغه د شمالي افغانستان د موسیقۍ د میراث د ساتنې په برخه کې د خپل رول له امله یوه نړیواله کلتوري جایزه هم ترلاسه کړه.

سره له دې چې په ځینو دورو کې په هېواد کې موسیقي محدوده شوې وه، خو مفتون خپل هنر ته ژمن پاتې شو. هغه په فارسي، ازبکي او پښتو ژبو سندرې وایي، او په وروستیو کلونو کې یې له بېلابېلو ملي او نړیوالو هنرمندانو سره ګډ کار کړی دی. د هغه یوه مشهوره سندره «عجب دنیاست...» په انلاین ډول میلیونونه اورېدونکي پیدا کړل او په بېلابېلو سیمو کې ډېره خپره شوه.

د شعر، شخصي تجربو او د ورځني ژوند له الهام اخیستو سره، میر مفتون لا هم د سولې، زغم او کلتوري ویاړ پیغامونه خپروي، او د خپل ټاټوبي موسیقي دودونه د راتلونکو نسلونو لپاره ژوندی ساتي.

سرچینې:

https://en.wikipedia.org/wiki/Mir_Maftoon
https://www.youtube.com/watch?v=ADG1I3JJeIA

# د سولارډ بزګرو په بازار کې د ټولنې یو خوند



د عکس امتیاز: petersbigadventure.com

د سولارډ بزګرو بازار په سنت لوئیس کې یو له ډیرو خوځنده او لرغونو بازارونو څخه ده. د ټولنې ډیرو غړو لپاره، په ځانګړې توګه د نوو راغلو لپاره، دا بازار دوی ته د خپل وطن د دودیزو بازارونو احساس ورکوي کوم چې دوی یې په خپلو هیوادونو کې لري.

د سولارډ بزګرو بازار Soulard Farmers Market د سنت لوئیس یو مشهور تاریخي بازار دی چې د ښار د مرکزي سیمې په سوېل کې پروت دي. دا بازار د لومړني فرانسوي مېشت شوي کس، Antoine Soulard، په نوم نومول شوی دی او په ۱۷۷۹ کال کې پرانیستل شو. په هغه وخت کې به سیمه‌ایز کروندګر به د اسونو په ټیلو کې بازار ته راتلل، خپل ګاډي به یې په ګردۍ توګه درول، اسونه به یې په منځ کې تړل، او خپل محصولات به یې د سیمې په خلکو پلورل.

د سولارډ مېرمن، Julia Soulard، په ۱۸۴۲ کال کې د خپل مېړه له مړینې اوولس کاله وروسته دا ځمکه د سنت لوئیس ښار ته ورکړه، په دې شرط چې دا ځای به تل د عامه بازار په توګه کارول کیږي. د بازار لومړنۍ ودانۍ په ۱۸۴۰مو کلونو کې جوړه شوه او په ۱۸۶۵ کال کې د بازار له تالار سره پراخه شوه. په ۱۸۹۶ کال کې یوې برېښنۍ ودانۍ ویجاړې کړې، خو ډېر ژر بیا له نوو پټنځایونو سره ورغول شوه. وروسته بیا نورې رغونې هم وشوې، او تر ۱۹۲۹ کال پورې اصلي ودانۍ او څلور څانګې یې بشپړې شوې. د اصلي ودانۍ ډیزاین د ایټالیا د فلورنس ښار له یوې ودانۍ څخه الهام اخیستی وو.

د ټولنې یو غړي یادونه وکړه چې لومړی ځل یې د دې بازار په اړه هغه مهال واورېدل چې په پنسلوانیا کې یې ژوند کاوه. یو شمېر ملګرو یې د دوی کور ته راغلل او د “مندوي” په نوم یې د یو ژوندي او پر شور بازار په اړه خبرې کولې، چې پکې خلک ورځني توکي اخلي. هغوی تشریح کړه چې په سنت لوئیس کې دوی اکثره د همدې بزګرانو بازار، یعنی Soulard Farmers Market، ته ورځي. د هغوی خبرې داسې وې لکه یو داسې ځای چې له ژوند، خبرو او خوځښت څخه ډک وي، حوبحو د هغو دودیزو بازارونو په څېر چې خلک یې په نورو هېوادونو کې پېژني. دا بازار چې د سولارډ په تاریخي سیمه کې موقعیت لري، له ډېر پخوا راهیسې د اوسېدونکو او لیدونکو لپاره د راټولېدو مهم ځای پاتې شوی دی. دا سیمه خپله د خپل تاریخ او کلتوري ځانګړتیاوو له امله پېژندل کېږي، نو بازار یوازې د پېر او پلور ځای نه دی، بلکې د ټولنې د تجربې کولو یو مهم مرکز هم دی. د وخت په تېرېدو سره، دا بازار یوه داسې مهمه نښه ګرځېدلې چې خلک پکې تازه محصولات پیري، له ملګرو سره ګوري، او له ژوندیو فضاوو خوند اخلي.

په بازار کې لیدونکي د توکو پراخ ډول موندلای شي. تازه مېوې او سابه تر ټولو مشهور دي، تر څنګ یې جوسونه، غوښې او نور خوراکي توکي هم شته. سربېره پر دې، ډېر پلورونکي ګانې، لاسي صنایع، او نور ځانګړي توکي هم پلوري. د همدې تنوع له امله، دا بازار یو مناسب ځای دی چې خلک پکې خپلې ډېرې ورځنۍ اړتیاوې په یوه ځای کې پوره کولای شي. په دې بازار کې په ځانګړې ډول د شنبې په ورځ ډېره ګڼه‌ګوڼه وي، کله چې سهار پرانیستل کېږي او تر ماسپښینه دوام کوي. په همدې وخت کې بازار له پېرېدونکو، پلورونکو او لیدونکو ډکېږي چې ببلابېل دوکانونه او غرفې ګوري. د ډېرو خلکو لپاره، بازار ته تګ یوازې د توکو اخیستل نه دي، بلکې یوه ټولنیزه تجربه هم ده.

کله چې تاسو په بازار کې ګرځئ، ډېر عادي ده چې له ملګرو، د کورنۍ له غړو یا همکارانو سره مخ شئ. خبرې په اسانه پیل کېږي، خلک یو بل ته سلام کوي او یا د غوره توکو په اړه سپارښتنې شریکوي. دا اړیکه بازار ته یو هرکلي کوونکی او ژوندی احساس ورکوي.

د خپل ژوندیوالي او دوستانه فضا له امله، د سولارډ بزګرو بازار ډېر وخت لیدونکو ته د دودیزو بازارونو یاد تازه کوي. د خبرو شور، د تازه محصولاتو رنګونه، او د خلکو تګ راتګ داسې چاپېریال رامنځته کړي چې تود او ژوندی احساس ورکوي. د ټولنې د ډېرو غړو لپاره، دې بازار ته تګ یوازې پېرودل نه دی، بلکې د یوې ژوندۍ او تړلې ټولنې برخه کېدل دي.

سرچینې:
خواره په میزوری کې، یو کلتوري کتغ د مېډیلین متسن لخوا، د میزوري پوهنتون خپرندوی، کولمبیا او لندن.



# ژبه او فرصتونه

د اپریل دیمه اونۍ د هغه وخت لپاره پیژندل کیږی چې په کې د انګلیسي ژبې ارزښت ته کتنه کیږی. د انګلیسي ژبې زده‌کړه تل زموږ د ټولنې د ډېرو غړو لپاره یوه مهمه موضوع او کله ناکله جدي اندېښنه پاتې شوې ده، په ځانګړي ډول د هغو کسانو لپاره چې په خپلو اصلي هېوادونو کې یې د زده‌کړې یا تمرین محدود فرصتونه لرل. له ۲۰۲۱ کال راهیسې، زموږ ټولنه لا پراخه شوې ده او نوې تجربې، مسؤلیتونه او ننګونې یې راوړې دي. زموږ ماشومان په ښوونځیو کې شامل دي، ځوانانو پوهنتونونو او کالجونو ته لاسرسی موندلی، او ډېری لویان هره ورځ له سهاره تر ماښامه کار کوي. په همدې وخت کې، د ټولنې ځینې غړي، په ځانګړي ډول هغه میرمنې چې ډېر وخت په کور کې تېروي، ښایي د انګلیسي ژبې د تمرین لږ فرصتونه ولري.

زموږ د ټولنې لویه برخه، په ځانګړي ډول ماشومان او تنکي ځوانان، دا پیاوړې فرصت لري چې د ښوونځي او ټولنیزو اړیکو له لارې خپلې ژبنۍ وړتیاوې پیاوړې کړي. خو د نورو لپاره، د انګلیسي زده‌کړه لا هم یوه ستره ننګونه ده. یوه مهمه پوښتنه دا ده: چې کله یو څوک په اسانه توګه په انګلیسي خبرې کوی نو څه پیښیږي؟ لومړی، انګلیسي د سنت لوئیس د ورځني ژوند ژبه ده. موږ دا ژبه هره ورځ کاروو، کله چې پېرودل کوو، له ګاونډیانو سره خبرې کوو، ډاکټر ته ځو، یا له ښوونځیو او د کار ځایونو سره اړیکه نیسو. قوي ژبني مهارتونه خلکو ته دا توان ورکوي چې خپل ورځني مسؤلیتونه په باور او خپلواکۍ سره ترسره کړي.

ژبنۍ وړتیا هم اقتصادي او هم مسلکي فرصتونو ته دروازه پرانیزي. هغه کسان چې په انګلیسي خبرې کوي، کولای شي کار ومومي، سوداګری پیل کړي، او په بېلابېلو کاري چاپېریالونو لکه ښوونځیو، فابریکو، دفترونو او خدماتي برخو کې فعاله ونډه واخلي. اړیکه نیونه اسانه او اغېزمنه کېږي. د بېلګې په توګه، کله چې یو څوک د وخت نیولو لپاره ټیلیفون کوي، نور اړتیا نه لري چې ژباړونکي ته انتظار وکړي، بلکې خپله اړتیا په خپله پوره کولای شي. دا خپلواکي باور زیاتوي او په ټولنه کې د لا زیات ګډون لامل کېږي.

د ټولنې هر غړی دا فرصت لري چې خپله انګلیسي ژبه ښه کړي. که دا اړتیا له پامه وغورځول شي، ستونزې به لا زیاتې او اوږدمهالې شي. تر ټولو ښه چاره دا ده چې ژر تر ژره زده‌کړه پیل شي او له موجوده سرچینو ګټه واخیستل شي. داسې اداري لکه د سنت لوئیس انټرنشنل انسټیټیوټ د تعلیمي پروګرامونو له لارې ارزښتناکه ملاتړ وړاندې کوي. د هغوی د زده‌کړې څانګه نه یوازې د تابعیت لپاره چمتووالی برابروي، بلکې د انګلیسي ژبې کورسونه هم په بېلابېلو کچو وړاندې کوي، چې پکې د GED چمتووالی او د ورځني ژوند لپاره عملي ژبنۍ زده‌کړې هم شاملې دی.

سربېره پر حضوري پروګرامونو، انلاین پلیټفارمونه لکه اِنجن (Engen) هم د زده‌کړې انعطاف منونکي فرصتونه برابروي، چې له ابتدایي څخه تر مسلکي کچې پورې مواد وړاندې کوي. شریکې اداري، ټولنیز مرکزونه، او د سنت لوئیس عامه کتابتونونه هم د ESL ټولګي، د کتاب لوستلو ډلې، او د خبرو اترو ناستې برابروي، چې د تمرین او پرمختګ لپاره خوندي چاپېریال رامنځته کوي. ټولنیز کالجونه هم یوه بله مهمه سرچینه ده، چې منظم ESL پروګرامونه وړاندې کوي ترڅو زده‌کوونکي په علمي او مسلکي برخه کې پرمختګ وکړي.

په پای کې، د انګلیسي ژبې زده‌کړه د فرصتونو دروازې پرانیزي. د ژبې له مهارتونو سره، افراد کولای شي سوداګر، ښوونکي، ټولنیز کارکوونکي، مسلکي متخصصین، او د ټولنې فعال مشران شي. ژبه یوازې د اړیکې وسیله نه ده؛ بلکې د باور، خپلواکۍ، او د افرادو، کورنیو او د سنت لوئیس د ټولنې لپاره د روښانه راتلونکي پر لور یوه لاره ده.

سرچینې:
https://www.iistl.org/education/
https://www.slpl.org/
https://stlcc.edu/programs-academics/academic-opportunites/english-as-a-second-language.aspx

# د پنجشیر ښکلا او ارزښت



د پنجشیر ولایت د افغانستان له ۳۴ ولایتونو څخه یو دی، چې د هیواد د پلازمېینې کابل په شمال خوا پروت دې. د خپلې زړه راښکونکې ښکلا، غښتلې کتورې پېژندګلوئ، او د لرغونو مهمو ځایونو لپاره پیژندل کیږی چې پنجشیر د افغانانو په زړونو کې ځانګړې ځای لري. دا ولایت په ۷ ولسوالیو ویشل شوې چې په ۵۴۰ کلیو کې ټولنې له طبیعت، کلتور او له یوه او بل سره تړلې، نږدې ژوند کوي.

پنجشیر په ۲۰۰۴م کال کې له پروان ولایت څخه له بېلیدو ورسته، یو خپلواکه ولایت جوړ شو. د دغې اداري بدلون د محلي حکومتولۍ د پیاوړتیا سبب شو او دې ته یې لاره حواره کړه چې په سیمه کې د پراختیا، زده‌کړې او بنسټیزو خدمتونو ته لا زیاته پاملرنه وشي.

د جغرافیا له پلوه، پنجشېر د څو ولایتونو له خوا احاطه شوی دې چې د سیمې اهمیت زیاتوي. دا له شمال څخه د بغلان او تخار ولایتونو سره، له ختیځ څخه د بدخشان او نورستان سره، له سوېل څخه د لغمان او کاپیسا سره، او له لوېدیځ څخه یو ځل بیا له پروان ولایت سره پوله لري. دا ستراتیژیک موقعیت پنجشېر د افغانستان د مرکزي او شمال ختیځو سیمو ترمنځ یو طبیعي پُل ګرځولی دی.

دا ولایت له اوو ولسوالیو څخه جوړ دی: عنابه، بازارک، دره، خنج، پریان، رخه او شتل. هره ولسوالۍ خپل ځانګړی طبیعي چاپېریال لري، چې شنې درې، بهېدونکي سیندونه او غرني کلي پکې شامل دي او د خلکو دودیز ژوند پکې برسیره کېږي.

د پنجشېر له تر ټولو ځانګړو ځانګړتیاوو څخه یو د پنجشیر ښکلی طبیعي منظر دی. دا ولایت د خپلو ژورو درو، صافو سیندونو او لوړو غرونو له امله مشهور دی چې د هندوکش د غرونو برخه جوړوي. دا طبیعي سرچینې نه یوازې ښکلا برابروي، بلکې کرنه او مالداري هم پیاوړې کوي، چې د ډېرو کورنیو لپاره د عاید مهمې سرچینې دي.

له جغرافیې هاخوا، پنجشېر د خپل قوي یووالي، زغم او کلتوري ویاړ له امله هم پېژندل کېږي. کورنۍ یو له بل سره نږدې اړیکې ساتي، او ټولنیزې غونډې، جشنونه او دودیز فعالیتونه یې د ورځني ژوند مهمه برخه جوړوي. مېلمه پالنه پکې ډېر ارزښت لري، او لیدونکي اکثره د دې سیمې د خلکو له تود هرکلي او سخاوت سره مخ کېږي. د توت جشن هم د اوړي له هغو مراسمو څخه دی چې پکې خلک سره راټولېږي، توت خوري، له دف سره موسیقي غږوي او قرسک (یوه محلي دودیزه نڅا) ترسره کوي. سربېره پر دې، د منی او ژمي په موسمونو کې د شاهنامه، د مولانا رومي مثنوي، او جنګنامې لوستل هم د خلکو ترمنځ یو دود دی. دا ډول کلتوري پروګرامونه ډېر وخت د مشرانو او ځوانانو په ګډه ترسره کېږي. د نورو سیمو په څېر، پنجشېر هم د تفریح او چکر لپاره یو زړه راښکونکی ځای ګڼل کېږي او د سیلانیانو لپاره ځانګړې ښکلا لري.

د ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۲۱ کلونو پورې، په پنجشېر کې زده‌کړه او پراختیا په تدریجي ډول ښه شوې ده. ښوونځیو او محلي نوښتونو ځوانانو ته دا فرصت ورکړی چې د روښانه راتلونکي لپاره هڅې وکړي. د پنجشېر ډېر ځوانان هڅول شوي چې خپلو زده‌کړو ته دوام ورکړي او په افغانستان او بهر کې د خپلو ټولنو لپاره مثبت رول ولوبوي.

په ټولیز ډول، پنجشېر ولایت د طبیعي ښکلا، کلتوري شتمنۍ او د ټولنې د ځواک یو ځانګړی ترکیب استازیتوب کوي. د دې ولایت سوکاله درې، ویاړلی تاریخ او هوډمن خلک، د هیلو او زغم یو مهم سمبول ګرځوي.

سرچینې:

https://en.wikipedia.org/wiki/Panjshir_Province
https://www.youtube.com/watch?v=vdeJfXL0cuE&list=PLVYOfuU76EtHzF9KbGsY9zauL2wcXf5C5&index=1
https://www.facebook.com/watch/?v=1888147707897924



# په سنت لوئیس پوهنتون کې زما سفر

له سارا موسوی، دعکس سرچینه: سنت لوئیس پوهنتون

سلام، زما نوم ساره موسوی دی، او زه د سنت لوئیس پوهنتون (SLU) کې د غاښونو د طب ډاکترۍ (pre-dental) کیدو لپاره د نیوکلییر درملو په برخه کې زده‌کړه کوم. د سنت لوئیس پوهنتون انتخاب کول زما د ژوند له تر ټولو غوره پرېکړو څخه یوه وه. سنت لوئیس پوهنتون نه یوازې یو پیاوړی علمي بنسټ دی، بلکې یو هرکلی کوونکی او ملاتړی چاپېریال هم لري. دلته محصلین او استادان مهربان، هوښیار او تل د مرستې لپاره چمتو دي. د داسې خلکو په منځ کې اوسېدل چې زده‌کړې او شخصي ودې ته ارزښت ورکوي، ما هره ورځ هڅوي. زه رښتیا هم منندویه او ویاړم چې د دې چاپېریال برخه یم. د یوې افغانې پیغلې په توګه، زه په هغو ټولو فشارونو پوهېږم چې موږ ورسره مخ کېږو. مالي ستونزې، د کورنۍ تمې، کلتوري دودونه، او کله ناکله د ژبنیز خنډونه دا ټول واقعیتونه دي. زموږ ډېری کسان په کم عمر کې مسؤلیتونه پر غاړه اخلو، له کورنۍ سره مرسته کوو او په ورته وخت کې هڅه کوو چې خپلو زده‌کړو ته هم ځیر واوسو. دا حالت کله ناکله ډېر دروند احساسېږي. زه پوهېږم چې کله نورې اندېښنې او مسؤلیتونه ډېر وي، نو زده‌کړو ته لومړیتوب ورکول څومره ستونزمن وي. خو زه غواړم ټولو افغان نجونو او هلکانو ته مستقیمه خبره وکړم: ستاسو زده‌کړه باید تل لومړیتوب ولري.

دا سفر اسانه نه دی. د لوستلو اوږدو شپو، سختو ازموینو، د ځان پر وړاند د نه باور شېبو، او داسې نورو وختونو سره به مخ شئ چې خپل پیاوړتیا به تر پوښتنې لاندې راوړئ. کېدای شي ځینې قربانۍ هم ورکړئ، هغه که ټولنیزې وي، مالي وي، یا شخصي. خو د دې ټولو سره سره، زده‌کړه بې له شکه ارزښت لري.

زده‌کړه هغه دروازې پرانیزي چې مخکې ناشونې ښکارېدې. دا تاسو ته پوهه درکوي، خپلواکي مو پیاوړې کوي، او دا باور درکوي چې د خپل راتلونکي په اړه پرېکړې وکړئ. همدارنګه، دا تاسو ته فرصت درکوي چې د خپلې ټولنې غږ شئ او په مانداره ډول پکې ونډه واخلئ. د افغان پیغلو/ځوانانو لپاره، په ځانګړي ډول هغو کسانو ته چې د کورنۍ یا ټولنې د تمو تر فشار لاندې دي، غواړم یو مهم پیغام ورکړم: خپل ځان او خپلې زده‌کړې لومړیتوب ګرځول موزیتوب نه ده، بلکې اړتیا ده. زموږ په هېواد (افغانستان) کې ډېر ځوانان، په ځانګړي ډول انجونې، د زده‌کړو ورته فرصتونه او ازادي نلري چې خپل خوبونه وڅاري. دلته موږ له فرصتونو برخمن یو. موږ باید له دې فرصتونو ګټه واخلو، نه یوازې د ځان لپاره، بلکې د هغو کسانو لپاره هم چې دا فرصتونه نه لري. کله چې موږ بریالي کېږو، موږ د خپلو کورنیو، کلتور او ټولنې استازیتوب کوو.

زه هیله لرم چې په سنت لوئیس پوهنتون کې زما د زده‌کړو سفر نور خلک وهڅوي چې پر ځان باور وکړي او خپل خوبونه وڅاري. پوهنتون یوازې د لوړو نمرو ترلاسه کولو په اړه نه دی؛ بلکې د خپل ځان د پېژندلو، د زغم، پیاوړتیا، د تلپاتې ملګرتیاوو د جوړولو، او د نړۍ په کچه د مثبت بدلون لپاره د وسایلو د ترلاسه کولو په اړه دی. تمرکز وساتئ، هوډمن پاتې شئ، او هېڅکله د زده‌کړې ځواک کم مه ګڼئ. ستونزې رښتینې دي، خو لاسته راوړنې تر دې ډېرې لوېې دي.

*سارا موسوي، په سنت لوئیس پوهنتون (SLU) کې د طب محصله، په افغان ژورنال کې ګڼ شمېر مقالې خپرې کړې دي.



# په سنت لوئيس کې د نوښت او نوی پرمختګ لمانځنه

هرکال په نړۍ کې د نوښت او نوی پرمختګ په ورځ، د نړۍ په بیلابیلو ځایونو کې خلک هڅول کیږي چې، په بیل ډول د ژوند، کار او جوړولو په اړه فکر وکړی. د اپریل په ۲۱مه لمانځل کیږی، دا ورځ موږ ته رایادوي چې څه کوو، څنګه یې کوو، او څنګه کولې شو خپلو نظرونو او فعالیتونو ته وده ورکړو ترڅو د خپل ځان، خپل ګاونډ، اوخپلې ټولنې لپاره ښه ژوند راوړو.

نوی پرمختګ او نوښت یوازې د سوداګرۍ او ټکنالوژي لپاره مهم نه دي؛ بلکې په زده‌کړه، ټولنیز ګډون او شخصي پرمختګ کې هم مهم رول لري. د سنت لوئیس د کورنیو او ځوانانو لپاره په ښار کې داسې ځو ځایونه شته چې خلک کولای شي نوی پرمختګ په خوښۍ او مانااداره ډول تجربه کړي.

له دغو ځایونو څخه یو The Magic House دی، چې د ماشومانو یو مشهور موزیم دی او داسې متقابل پروګرامونه وړاندې کوي چې د خیال او زده‌کړې الهام ورکوي. د MADE for Kids په نوم د نوښتګرۍ فضا (makerspace) له لارې ماشومان او کورنۍ کولای شي د بېلابېلو وسایلو او موادو په کارولو سره جوړول، ډیزاین کول او نوې مفکورې تجربه کړي. دا فعالیتونه د ماشومانو د پوښتنو کلو وړتیا پیاوړې کوي او هغوی ته د عملي تجربو له لارې زده‌کړه برابروي.

په ښار کې بل تخلیقي ځای Macklind Maker and Play دی. دا ټولنیز جوړښتي ځای ماشومانو او کورنیو ته فرصت ورکوي چې د هنر، انجنیرۍ او د نوښتګرو پروژو تجربه وکړي. دا چاپېریال تجربه او ګډ کار هڅوي او ګډونوالو ته اجازه ورکوي چې خپلې مفکورې په عملي پروژو بدلې کړي او نوي مهارتونه زده کړي. کورنۍ هم کولای شي د نوښتګرۍ زده‌کړې فرصتونه د سنټ لوئیس عامه کتابتون له لارې ولټي.

د کتابونو او زده‌کړې سرچینو تر څنګ، د کتابتون ډېری څانګې د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره د ټکنالوژۍ، هنر، نوښت او زده‌کړې اړوند پروګرامونه وړاندې کوي. دا پروګرامونه ځوانانو ته دا فرصت ورکوي چې نوې علاقې ومومي او په یوه ملاتړي چاپېریال کې مهم مهارتونه زده کړي.

دا ډول د نوښت ځایونه یوازې د لوبو لپاره نه دي. دوی ماشومانو او ځوانانو ته داسې مهم مهارتونه ورزده کوي چې په ښوونځي، راتلونکو مسلکونو او ورځني ژوند کې ګټه لري. د نوښتګرو فعالیتونو له لارې ماشومان انتقادي فکر او د ستونزو حل کولو مهارتونه زده کوي، د ټکنالوژۍ او ډیزاین په اړه پوهه ترلاسه کوي، او د باور، ټیم کار او اړیکو وړتیاوې پیاوړې کوي. همدارنګه هغوی کولی شي خپلې مفکورې د هنر، انجینرۍ او نوښتګرو پروژو له لارې څرګندې کړي. دا تجربې په ځانګړي ډول د هغو ځوانانو لپاره ارزښت لري چې د ساینس، هنر، سوداګرۍ او ټکنالوژۍ په برخو کې لیوالتیا لري. کله چې ماشومان په یو خوښ او فعاله چاپېریال کې نوښت تجربه کوي، نو کولای شي خپلې لیوالتیاوې ومومي او هغه مهارتونه رامنځته کړي چې د راتلونکي بریا لپاره یې ملاتړ کوي.

د World Creativity and Innovation Day موږ ته دا یادونه کوي چې خلاقیت یوازې د هنرمندانو یا مخترعینو لپاره نه دی؛ بلکې دا یو مهارت دی چې هر څوک یې زده کولای شي. هغه ټولنې چې د نوښتګرو زده‌کړې ملاتړ کوي، د راتلونکو نسلونو د مفکرینو، د ستونزو حل کوونکو او نوښتګرو د الهام سرچینه ګرځي، هغه کسان چې د راتلونکي بڼه به بدله کړي.

سرچینې:

https://www.magichouse.org/made-home/
https://www.macklindmakeplay.com/
https://www.slcl.org/







J & K Autobody Shop

د دې پاڼې یا د ژورنال د نورو برخو لپاره د اعلان کولو، یا که تاسو غواړئ خپله کیسه، د خپل ټولنې په اړه لیکنه، زده کړې شوي درسونه، او نور شریک کړئ، لطفاً له موږ سره اړیکه ونیسئ:

sayedis@iistl.org

AfghanSupportProgram

The Afghan Journal is thrilled to announce that we are now open for advertisements! Share your journey and amplify your voice by submitting your news or articles to us today. Let your story be seen and heard

ST.LOUIS
AFGHANS
WELCOME
HERE

3611 South Grand, Suite 105, St.Louis, MO
(314)773-9090 * 224
Hamdardh@iistl.org
www.afghancenter.org